## مطبوعاتي اعلامیه

# د پاکستان واکمنان په افغانستان کې د سیکولر ـ ډموکراتیک حکومت په جوړولو کې له امریکا سره مرسته کوي

د ۲۰۲۰م، د ډسمبر په ۲مه، اعلان وشو چې د افغانستان حکومت او طالبانو تر منځ د خبرو اترو پر اصولو موافقه شوې ده. د افغانستان لپاره د واشنګټن ځانګړي استازي له دې اعلامیې څخه د «مهم پړاو» په توګه هر کلی وکړ. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت اعلان وکړ، چې «دا یو مهم پرمختګ دی چې د بین الافغاني مذاکراتو د پایلي په بریالیتوب کې مرسته کوي، پاکستان به د افغانستان د بین الافغاني خبرو اترو ملاتړ ته دوام ورکړي. دا به یو جامع، پراخه او هر اړخیز سیاسي حل وي، چې د یوه سوله ییز، باثباته او سوکاله افغانستان لپاره لاره هواروي.»

د ۲۰۲۰م، د فبروري په ۲۹مه، د امریکا او افغان طالبانو تر منځ د هوکړې له مخې د امریکا د ګوډاګي افغان رژیم سره خبرې اترې، د ۲۰۲۰م، د مارچ په ۱۰مه په پلان کې نیول شوې وې، چې پیل شي، څو د هر اړخیز اوربند او سیاسي جوړجاړي په اړه پرېکړه وکړي. په تېرو لسو میاشتو کې، پرمختګ په ټپه ولاړ و او جګړې ته د طالبانو د بېرته راستنېدو خطر لوړ شو، چې د امریکا ډارن سرتیري ټوټې ټوټې کړي. د واشنګټن لپاره بین الافغاني خبرې اترې ډېرې مهمې دي، څو د افغانستان په سیکولر نظام کې د ځینو مصنوعي اسلامي اصطلاحاتو سره طالبانو ته ځای ومومي. امریکا د خپلې کمزورتیا له امله د خپلو ګټو خوندي کولو لپاره له خپلو اجنټانو کار اخلي. له همدې امله امریکا د پاکستان سیاسي او نظامي مشرتابه ته دنده سپارلې، چې طالبان په سیکولر جال کې بند کړي. امریکایي نظم به د امریکا ګټې د شاوخوا ۲۵۰۰ څخه تر ۴۰۰۰ پورې محدود ځواک په مرسته خوندي کړي، چې په څو محدودو نظامي اډو کې به موقعیت ولري.

د امریکایي تکتیک پر اساس، د باجوه ـ عمران رژیم د سیمه ییزو امریکایي اهدافو د تر لاسه کولو لپاره ډېره هڅه کوي. د ډسمبر هوکړې ته د لارې هوارولو لپاره، د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیل زاد د ۲۰۲۰م، د نومبر په ۳مه، په راولپنډۍ کې د پوځ له مرکزي دفتر څخه لیدنه وکړه، څو د پوځ له مشر قمر جاوید باجوه سره وګوري. بیا د ۲۰۲۰م، د نومبر په ۱۹مه، هغه ورځ چې عمران خان کابل ته ورسېد، امریکایي ډیپلومات انګیلا ایجیلر په راولپنډۍ کې د پوځ له مشر سره وکتل. د ISPR له خوا په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي، چې په دواړو ناستو کې د افغانستان د سولې پروسې او د سیمې د امنیت په اړه خبرې شوې وې.

عمران خان کابل ته د خپل سفر پر مهال وویل چې پاکستان به په افغانستان کې د جوړجاړي د خوندي کولو لپاره د هڅو ملاتړ ته دوام ورکړي او د امریکا له خوا به وستایل شي.

**اې د پاکستان په وسله والو ځواکونو کې مسلمانانو!** د پاکستان د سیاسي او نظامي مشرتابه فاسد لیدلوري ته پام وکړئ. ادعا کوي چې موږ به له نړیوالو مالي سازمانونو څخه اقتصادي ګټې تر لاسه کړو، که چېرته موږ له امریکا څخه پیروي وکړو، د هغوی امرونه وڅارو او په سیمه کې یې ګټې خوندي کړو. رژیم د امریکا د ښکېلاګرو په تسلط ساتلو سره، د څو ډالرو د تر لاسه کولو لپاره د پاکستان امنیت زیانمنوي. په داسې حال کې چې دا وسله وال ځواکونه او استخبارات د اسلام او مسلمانانو د ګټو پوره کولو لپاره دي، چې د امریکا ویجاړوونکي پلانونه شنډ کړي. هر هوښیار سړی پوهېږي چې پاکستان په افغانستان کې تر ټولو پیاوړی ځواک دی، چې خپل سیاسي او امنیتي دواړه اړخونه ټاکي. تاسو باید په پاکستان کې د خلافت د تاسیس لپاره نصرت ته چمتو شئ، چې په اسانۍ سره کولای شي افغانستان او مرکزي اسیا سره یو کړي او د یووالي له لارې امت پیاوړی کړي، امریکا له سیمې څخه له سیاسي، اقتصادي او پوځي اړخه وباسي. دا ربښتینې فتح ده چې مسلمانان یې باید په لټه کې شي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاء وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾** [روم: ۴-۵]

***ژباړه:*** *په دغه ورځ (د روم په برلاسه کېدو) به مسلمانان خوشالي وکړي. د الله سبحانه و تعالی په ښښل شوي بري باندې، الله سبحانه وتعالی له هر هغه چا سره مرسته کوي، چې خوښه یې شي او هغه برلاسی او پوره رحم لرونکی دی.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د ربیع الثاني ۲۱مه**

**۲۰۲۰م، د ډسمبر ٦مه**

**د صدور ګڼه: ۳۲/۱۴۴۲**